


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته بنه راغلاست!



# فاروق « فردا »

د نشر نیټه : 24 دسمبر 2018 م

ژباړونکی: فاروق « فردا »

# مثنوی معنوی



**د مثنوی معنوی لومړی دفتر، ۱۰ برخه**
**د هغې مسالې بیان چې زرګرته د زهرو ورکول د الهی په امر وو،**
**د نفساني غوښتني او فاسد تامل له مخې نه وو.**

د حکیم پر لاس وژل د هغه کس وو
نه له وېرې ، نه بنا هم پر هوس وو

دا وژل نه وو پر طبعي د پاچا هېڅ
څو الهام پرې نازل نه وای داله هېڅ

چې هلک نه خضر غوڅه کړله غاړه
ناخبره يې له راز دي عالم واړه

چې موندلي چا د حق وحی ځواب دی
حکم يې هر چا باندی هم عين صواب دی

څوک چې سا بخښي وژل ورته روا هم
دی وکيل او لاس يې وي لاس د اله هم

اسمعيل غونډي شه تېر ورته له ځانه
د چاړه په وړاندې خوښ اوسه خندانه

د احد سره چې خوښ روح دی د احمد وي
خوښ د تا روح به ، همداسې تر ابد وي

دخوښی پر جام مين هله مړېږي
چې له لاسه د مَيَنی وژل کيږي

شاه شهوت ته وژل ونه کړه خبر شه
له جګړې نه او له شکه لاس پر سر شه

تا ګمان وکړ پاچا کړی فساد دی
پر پاکی د نا پاکی ايښی بنياد دی

دا جُفا او هڅې دِې د دې د پاره
چې کوره، پاک کړي سپين زر ورنه له آره

دا آزمېښت دی د بديو د نيکيو
ايشيدو کې زَر را جګ شي له بديو

که الهام پرې نازل نه وای د اله نه
يو داړونکی هسې سپی به وای او شاه، نه

دی سپېڅلی دشهوت او حرص له رنګه
کار يې نيک وکړ، نيکی يې وه بدرنګه

که خضر کشتی کړه ماته سمندر کې
سل سمون شته په همدې کار د خضر کې

د موسی برم، ډک له نور له هنره
پرې پوه نه شو،الوَت مکره بې وزره

دا سور ګل دی ورته وينه هېڅ، مه وايه
مست د عقل، لېونې په نوم مه ستايه

که د ده موخه، وژل دمسلمان وای
وای کافر که مې ياد کړی يې نښان وای

د قاتلو له ستاینې عرش لړزیږي
متقي له دې ستاینې شکمن کیږي

دی بادشاه وو بادشاهۍ سره هښیار وو
او ځانګړی، دې دلوی خدای په دربار وو

چي همداسې پاچا ووژني پر لاس څوک
نېکمرغی او لوړ مقام ته رسي پاس څوک

که لیدلي نه وای ګټه یې، غضب نه
محروم پاتې به وو تل رحم د رب نه

دحَجام په نیښ ماشوم پر ځان لړزیږي
مهربانه مور له دې نه خوشحالیږي

نیمه سا آخلي او سل نور درکوي دی
چي پر خیال دې نه را ګرځي لَورَوي دی

ته د خپل ځان قیاس آخلي له دنیا نه
نیک نظر وکړه، یې لېری له رښتیا نه
پای
ژباړونکی: فاروق « فردا »
*****

## اصل شعر از : مثنوی معنوی ، دفتر اول بخش ۱۰

## بیان آنک کشتن و زهر دادن مرد زرگر به اشارت الهی بود نه به هوای نفس و تامل فاسد

کشتن آن مرد بر دست حکیم
نه پی اومید بود و نه ز بیم

او نکشتش از برای طبع شاه
تا نیامد امر و الهام اله

آن پسر را کش خضر ببرید حلق
سر آن را در نیابد عام خلق

آنک از حق یابد او وحی و جواب
هرچه فرماید بود عین صواب

آنک جان بخشد اگر بکشد رواست
نایبست و دست او دست خداست

همچو اسمعیل پیشش سر بنه
شاد و خندان پیش تیغش جان بده

تا بماند جانت خندان تا ابد
همچو جان پاک احمد با احد

عاشقان آنگه شراب جان کشند
که به دست خویش خوبان شان کشند

شاه آن خون از پی شهوت نکرد
تو رها کن بدگمانی و نبرد

تو گمان بردی که کرد آلودگی
در صفا غش کی هلد پالودگی

بهر آنست این ریاضت وین جفا
تا بر آرد کوره از نقره جفا

بهر آنست امتحان نیک و بد
تا بجوشد بر سر آرد زر زبد

گر نبودی کارش الهام اله
او سگی بودی دراننده نه شاه

پاک بود از شهوت و حرص و هوا
نیک کرد او لیک نیک بد نما

گر خضر در بحر کشتی را شکست
صد درستی در شکست خضر هست

وهم موسی با همه نور و هنر
شد از آن محجوب تو بی پر مپر

آن گل سرخست تو خونش مخوان
مست عقلست او تو مجنونش مخوان

گر بدی خون مسلمان کام او
کافرم گر بردمی من نام او

می‌بلرزد عرش از مدح شقی
بدگمان گردد ز مدحش متقی

شاه بود و شاه بس آگاه بود
خاص بود و خاصهٔ الله بود

آن کسی را کش چنین شاهی کشد
سوی بخت و بهترین جاهی کشد

گر ندیدی سود او در قهر او
کی شدی آن لطف مطلق قهرجو

بچه می‌لرزد از آن نیش حجام
مادر مشفق در آن دم شادکام

نیم جان بستاند و صد جان دهد
آنچ در وهمت نیاید آن دهد

تو قیاس از خویش می‌گیری ولیک
دور دور افتاده‌ای بنگر تو نیک

****

مولانا جلال الدین محمد « بلخی »

www.said-afghani.org — بازگشت به صفحه اصلی